TIER 2

د نړیوالې مذهبي ازادۍ پر سر د متحده ایالتو کمیسیون (USCIRF) د متحده ایالتو د فیدرالي حکومت یو خپلواکه، دوه اړخیزه کمیسیون دی کوم چې د 1998 د نړیوالې مذهبي ازادۍ قانوني لایحې (IRFA) له خوا تخلیق کړل شوی دی کوم چې په دباندې هېوادو کې د مذهب یا ګروهې د ازادۍ نړیوال حق څارنه کوي. USCIRF د مذهب یا ګروهې د ازادۍ د تېرېو د څارنې لپاره نړیوال معیارونه کاروي او جمهور رئیس، د خارجه چارو سیکتر، او کانګرې ته د تګلارې سپارښتونه وړاندې کوي. USCIRF یو خپلواکه اداره ده کومه چې د متحده ایالتو د خارجه امورو له شعبې څخه جلا ده. د *2018* کلنی راپور د کمیشنرانو او مسلکي عملې له خوا د یو کال د هغه کار لوړه نقطه څرګندوي چې پر مځکه يې د تېرېو اسناد جوړ کړل او د متحده ایالتو حکومت ته یې د خپلواکه تګلارې سپارښتونه وړاندې کړل. د 2018 کلنی راپور د جنورې 2017 نه نیولې تر د دیسمبر پورې موده احاطه کوي، که څه هم په ځینو صورتو کې هغه مهمې پېښې چې د وخت د دې چوکاټ نه وړاندې او ورستو رامنځته شوې دي ذکر کړل شوې دي. د USCIRF په اړه د لا نورو مالوماتو لپاره دلته ویبپاڼه وګورئ، یا د USCIRF سره پر 202-523-3240 نېغ په نېغه تماس ونیسئ.

**افغانستان**

**مهمې موندنې:** په افغانستان کې د امنیت وضع ناحل پرته ده، کومه چې په ټول هېواد کې پر مذهبي ازادۍ منفي اغېزې کوي. په دې ورستیو کلنو کې د شیعه مسلمانانو د ټولنیزو اقتصادي وضعیت لوړېدو پرته، د دې ټولنې پرضد تېرې – په ځانګړې ډول په خوراسان ایالت کې د اسلامي دولت (ISKP) له خوا – په ټول 2017 کې دوام لرلو، او په ځینې صورتو کې لا نور خراب شوی و. برسېره پر دې هغه مذهبي مشران کوم چې د افراطیت پرضد په جګړه کولو او د بېلابېلو اسلامي ډلو ترمنځه د اختلافات ختمولو په هڅو کې شامل وو د تېر کال په پرتله په 2017 کې په ډېر زیات شمېر کې د افراطیانو له خوا ووژل شول. غیراسلامي ډلې لکه هندوان، عیسویان، او سیکان د خطر سره مخ لرګیو په ډول پاتې شوي وو او دا وړتیا نه لري چې په ښکاره توګه په خپلو مذهبي روایتو کې برخه واخلي. د هېواد د اساسي قانون او نورو قانونو ځینې اړخونه د مذهب او ګروهې د ازادۍ د نړیوالو معیارو پرضد دي. هغه ننګونې چې د هېواد ښځې ورسره مخ دي هم دوام لري، په خاصه توګه هغه چې په زور واده کولو، تعلیم ته رسایی او د مساوي دندې سره اړه لري. د دغې اندېښنو پر اساس USCIRF په 2018 کې یو ځل بیا افغانستان د مذهبي ازادۍ پرضد تېرېو کې بوختېدو یا زغملو له امله په خپل ټایر 2 واچولو کوم چې د نړیوال مذهبي ازادۍ قانوني لایحې (IRFA) ترمخه د خاصې دلچسپۍ هېواد یا CPC توګه د نومول کېدو لپاره د «منظم، روان، بد» معیار لږ تر لږه یو عنصر پوره کوي. USCIRF دا موندنه هم کوي چې طالبانو په 2017 کې په خاصه توګه د مذهبي ازادۍ پرضد سختو تېرېو کولو ته دوام ورکړی و، او له همدې کبله په 2018 کې بیا سپارښتنه کوي چې په IRFA کې د دیسیمبر 2016 د ترمیمو له مخه دا ډله «د خاصې دلچسپۍ د ډلې» یا EPC په توګه نومول کولو لپاره وړ ده. کوم چې د نړیوال مذهبي ازادۍ قانوني لایحې (IRFA) ترمخه د خاصې دلچسپۍ هېواد یا CPC توګه د نومول کېدو لپاره د «منظم، روان، بد» معیار لږ تر لږه یو عنصر پوره کوي. USCIRF دا موندنه هم کوي چې طالبانو په 2017 کې په خاصه توګه د مذهبي ازادۍ پرضد سختو تېرېو کولو ته دوام ورکړی و، او له همدې کبله په 2018 کې بیا سپارښتنه کوي چې په IRFA کې د دیسیمبر 2016 د ترمیمو له مخه دا ډله «د خاصې دلچسپۍ د ډلې» یا EPC په توګه نومول کولو لپاره وړ ده.

**د متحده ایالتو حکومت لپاره سپارښتنې**

- د IRFA، کوم چې د فرانک آر وولف نړیوالې مذهبي ازادۍ قانوني لایحې 2016 له خوا ترمیم شوی دی، ترمخه طالبان د EPC په نوم ونومول شي؛

- د افغانستان ولسمشر او اجرائيي رئيس ته د مذهبي ازادۍ او په هېواد کې د بشپړ امنيت ترمنځه د اړيکو په تاکيد ورکړل شي؛

- د افغانستان د تعليم وزارت او د مالوماتو او فرهنگ وزارت په دې وهڅول شي چې د عامه تعليم له لارې د مذهب او گروهي ازادي په ښکاره ډول مخ په وړاندې بوزي او په هېواد کې د مذهب او ټولني په باب پر بېلابېلو موضوعاتو د بحث کولو لپاره ټولنيز مرکز تخليق کړي؛

- د افغانستان د ښځو چارو وزارت او د متحده ايالتو د خارجه چارو وزارت د نړيوالو ښځو د ستونزو د دفتر ترمنځه همکاري اسانه کړي د دې لپاره چې تعليم او دندې ته په رسايي کې د ښځو مرسته وکړي او د يو قانون له لارې د جبري واده د دود پرضد قانون جوړولو پرسر لاره همواره کړي.

- د متحده ايالتو د سفارت، د پارلمان د مخکښ وکيلانو، د قانون وزارت او په لوړه محکمه کې د فتوې او شمېړو ډايريکټريټ ترمنځه همکارۍ له لارې د افغانستان حکومت وهڅوي چې:
    - د 2004 د رسنيو قانون باطل کړي کوم چې «غيراسلامي» ليکنې منع کوي: او
    - د وړ قانون له لارې د سترې محکمې له خوا د 2007 پرېکړه اپوته کړي کومه چې وايي چې بهايي گروهه د مذهب سپکاوی دی او دې ته گروهه بدلوونکي کافران دي:

- د افغانستان حکومت دې ته وهڅوي چې د گروهو ترمنځه خبرو اترو ته وده ورکولو او د مذهبي لږکيو ډلې پياوړي کولو لپاره د حج او مذهبي امورو وزارت نفش زيات کړي؛

- د داخلي امورو، دفاع، او حج او مذهبي امورو وزارتو لپاره وکالت وکړي چې په گډه کار وکړي او په افغانستان کې ميشت د بېلابېلو مذهبو او بېلابېلو اسلامي ټولنو څخه د گروهي مشرانو او عالمانو ترمنځه د همکارۍ غونډو ته امنيت ورکړي او ورته اسان کړي؛

- د افغانستان په اړه د بهرنيو چارو وزارت او د دفاع وزارت ستراتيژيو او تګلارو سره د مذهبي ازادۍ ماملاتو يووالی باوري کړي سره د اړوند ستونزو لکه د مذهبي افراطيت مخنيوی کول او د فرقه يي شخړو هوارول؛ او

- دا باوري کړي چې د مذهب او گروهي د ازادۍ په شمول د بشري حقونو معاملات په هغه ټولو دوه اړخيزو او گڼ اړخيزو خبرو اترو کې گډ کړل شوي دي چې د امن او د افغانستان حکومت او طالبانو ترمنځه د روغې جوړې په لټه کې وي.

## پس منظر

**افغانستان**
**پوره نوم:** د افغانستان اسلامي جمهوریه
**حکومت:** د یووالي صدارتي اسلامي **جمهوریه**
**ابادي:** 33,000,000
**د ابادۍ مذهبي مالومات:**
98-99% مسلمان
80% سني مسلمان
10-19% شیعه مسلمان (په ګډون د اسماعیلیو)
1% < نور (هندو، سیک، بهایی، او عیسویان)
* اټکلونه چې د ورلډ فیکټ بوک او دی پیو ریسرچ سینټر له خوا جوړ کړی دي.

په داسي حال کي چي د افغانستان زیاته ابادي مسلمان دي، هېواد بېلابېل توکم لري، په ګډون د پښتون (42%)، تاجک (27%)، هزارګان (9%)، اوزبک (9%)، تورکان (3%)، او بلوڅان (2%). دا هېواد د بېلابېلو نړیوال او محلي ترهګرو ډلو لپاره د فعالیتو د اډو په توګه کارول کیږي، په ګډون د القاعده، په عراق او ثوریه کې د اسلامي ریاست (ISIS/ISKP)، طالبان، او حقاني شبکه (کومه چي پاکستان هم د فعالیتو د اډې په توګه کاروي).

د اجرائیي رئیس عبدالله عبدالله او ولسمشر اشرف غني د دې وړتیا نه لرله چې په 2017 کې پر مذهبي لړکیو د بریدونو مخنیوی وکي. دا په جزوي ډول دي حقیقت سره اړه لري چې د افغانستان حکومت د خپل قامي سیمي یوازې پر 62% قابو لري، په داسي حال کې چې پاڅون کوونکي ډلي تر 16% په قابو کې لري او د هېواد پر 21% سیمه جګړه کوي.

اساسي قانون اسلام د دولت د سرکاري مذهب په توګه نوموي او دا اړینه ګڼي چې ټول پارلماني قوانین د اسلام د اصولو سره سم وي. د اساسي قانون 35 مه ماده دا اړینوي چې د کوم سیاسي ګوند منشور باید له اسلام څخه سرغړونه ونکړي، او 45 مه ماده د دولت لپاره دا اړینوي چې د عامه تعلیم یو داسي نصاب جوړ کړي چې د اسلام د اصولو پر اساس جوړ وي. د قضاییه لپاره د اساسي قانون اصول د حنفي شرعي قوانیو کارونه اړینوي په هغه صورت کې چې د یوې قضیي لپاره د قوانینو یا اساسي قانون شرطونه شتون ونلري. د مثال په توګه، د مذهب سپکاوی په اساسي قانون یا د افغانستان په جزایي قانون کې مجرم نه ګڼل کیږي خو د حنفي قوانینو ترمخه د مرګ په سزا محکوم کېدای شي. برسېره پر دې، د 2004 د رسنیو قانون د داسي کوم لیکوال د بندي کولو پرېښله ورکوي څوک چې د اسلام ضد کوم مواد خپاره کړي د داسي یوې کمېټي له خوا چې د ملګرو ژونلیستانو او د دولتي چارواکو څخه جوړه کړل شوي وي.

د اساسي قانون 2 مه ماده، کومه چې اسلام دولتي مذهب جوړوي، هم دا وایي چې غیرمسلمه ازاد دي چې خپل «مذهبي رسمونه .... د قانون په چوکاټ کې دننه» عملي کړي. بیاهم، په اساسي قانون کې داسي کوم شرط نیشته کوم چي په ښکاره توګه د هر افغان وګړي لپاره د مذهب او ګروهې ازادي خوندي کوي. برسېره پر دې، د عبادت کولو محدود حق کوم چي غیرمسلمو ته ورکړل شوی دی هغه د مذهب او ګروهې پراخه حق ته ورته نه دی کوم چې د بشري حقونو نړیوال منشور (UNDHR) ترمخه تصویب کړل شوی دی. بیاهم، د افغان د اساسي قانون 7 مه ماده دولت دې ته اړ کوي چې UDHR ته درناوی ورکړي. د مذهبي ازادۍ په باب له د UDHR او د افغانستان د اساسي قانون ترمنځه شخړه ناحل پاتې ده.

**د مذهبي ازادۍ شرطونه 2017**

***د شیعه مسلمانو سره چلند:*** په 2001 کې د متحده ایالتو له خوا پر افغانستان د برید کولو راهیسې ډېر په تاریخي ډول بې ګټې توکمیز او د مذهبي لږکیو ډلې د نسلونو راهیسې روان توپیر باندې قابو موندلی دی او په دولتي او شخصي ساحو کې یې لوړې دندې ترلاسه کړې دي. دا خبره په ځانګړي ډول د شیعه ټولنې لپاره سمه ده، د کومې ټولنې ټولنیز او اقتصادي نقش چې په تېرو دوه لسیزو کې لوړ شوی دی. په داسې حال کې چې د بهرنیو چارو ریاست ویلي دي چې د شیعه مسلمانانو او سني مسلمانانو د سلنې په اړه کوم باوري مالومات نیشته، خو په هېواد اوس څه لپاسه 10,000 جوماتونه دي، او په دغه کې 400 په پلازمېنه کابل کې دي.

د شیعه مسلمانانو ټولنیز او اقتصادي لوړوالی له هغه لاملونو څخه یو دی چې افراطي ډلې شیعه مسلمانان د برید لپاره په هدف کې نیسي، کوم چې دوی ملحدان او «د وژنې وړ» ګڼي. په 2017 کې، هغه ډلو چې په افغانستان کې د ISIS سره تړاو لري شیعه جوماتو او خواوشاو سیمو باندې برید کولو ته یې دوام ورکړ. ګڼ شمېر پخواني طالبان مشرانو خپل ځانونه د ISIS ائتلافیان ګرځولي دي او د ISIS مشرابوبکر البغدادي سره یې خپلې پخې ژمنې کړې دي، په داسې حال کې چې ګڼ شمېر ISIS جګړه ماران له ثوریې څخه تښتېدلي دي او په افغانستان کې خپل پړاو اچولی دی. دغه غبرګ صورت حال په افغانستان کې د ISIS نقش لوړ کړی دی، کوم چې د ISKP د نامې لاندې خپل فعالیتونه کوي.

د ابوبکر البغدادي او د ISIS د نړیوال مشرتابه د فرمانو پر اساس، ISKP یو شمېر نورې اسلامي فرعي ډلې او فرقې د برید لپاره په هدف کې نیولې دي کومې چې دوی ملحدان بولي، په خاصه توګه شیعه مسلمانان. په 2017 کې، د دې په نتیجه کې په غټو شیعه جوماتونو بریدونه وشول لکه په کابل کې الزهرا جومات او د هیرات په ښار کې د امام محمد باقیر جومات. په دیسیمبر 2017 کې، ISKP په کابل کې د شیعه ګانو پر تبایان ټولنیز او فرهنګي مرکز برید ترسره کړو، د کوم له امله چې 41 تنان مړه شول. د راپورونه ترمخه، په 2017 کې د شیعه مسلمانانو پرضد لږ تر لږه اووه بریدونه ترسره شوي دي په کوم کې چې 149 تنان مړه او 300 تنان ټپیان شوي دي.

دغه بریدونه اکثر د شیعه ګانو د مذهبي لمانځنو لکه لیلته القدر، عشوره، محرم، یا د حضرت مهدي د کلیزې پر مهال ترسره شوي دي. د دې خطرې په ځواب کې، افغان دولت هڅه کړې ده چې هغه ولسي شیعه غړو ته اضافي امنیت او وسلې ورلاندې کړي کوم چې د شیعه ګانو جوماتو ته نژدې میشت دي. بیاهم، بریدونو ټول کال دوام لرلی دی. د مذهبي لمانځنو پرمهال د دې ټولنې پر جوماتو برید کولو سره ISKP رنګه ډله دا هدف لري چې د شیعه مسلمانانو دا وړتیا ختمه کړي چې هغوي خپله ګروهه په ډاګه عملي کړي او په خپلو عامه عنعناتو کې ګډون وکړي.

افراطي ډلې، په ګډون د ISKP او طالبانو، په ځانګړې توګه یوه توکمیزه ډله په هدف کې نیسي: تر ټولو زیات شیعه هزاره ګان. په 2017 کې د دغه افراطي ډلو لږ تر لږه دوه غټې پېښې رامنځته شوې دي چې هزاره شیعه ګان یې په هدف کې نیولي دي، یوه هغه چې اته محلي د ماین کارکوونکي پکې وژل شوي وو او بله هغه پېښه چې ISKP پکې د درې ښکار شویو تنانو سرونه غوڅ کړي وو. برسېره پر دې، هزاره د دې راپور پلویتوب کوي چې د هېواد اوسنی مشرتابه د هزاره سیاسي مشران او ګوندونه یو اړخ ته کړي دي او هغوي پر حکومتي تګلارو هیڅ رقم اغېز نه لري.

***د مذهبي مشرانو پرضد تېری:*** په 2017 کې یو میلان رامخې ته شو چې ترمخه یې په افغانستان کې د مترقي ګروهي مشران په زیاتېدونکې توګه په هدف کې نیول کیږي، په خاصه توګه هغه چې د ګروهو ترمنځه کمیسیونو یاد افراطیت ضد محلي شوراګانو کې کار کوي. ګڼ شمېر دولتي او غیر دولتي سازمانونه او کانفرانسونه دي کوم چې دا هدف لري چې د شیعه او سني مسلمانانو ترمنځه فرقه ییز اختلاف ختم کړي. هغه مشران چې په دا راز پېښو کې ګډون لري د مخکینې کال په پرتله په 2017 کې په لا نور کثرت سره په هدف کې نیول شوي دي.

د افغانستان لپاره د متحده قامونو د مرستې مشن د 2017 لپاره په خپل نیم کلنې راپور کې توضیح کړې ده چې د 2017 په لومړی نیمایې کې پر مذهبي مشرانو لږ تر لږه 13 بریدونه ترسره شوې دي، په داسې حال کې چې په تیر کال کې دا راز یوازې دوه بریدونه راپور کړل شوي دي. دا یو زیانمن کوونکې میلان اړخ ته اشاره کوي کوم چې د بېلابېلو مذهبي ټولنو د مذهبي مشرانو ترمنځه همکاري په خطر کې اچوي. برسېره پر دې، د شیعه اسلامي لړکیو ډلې مشران په هدف کې نیولو سره ISKP رنګه ډلې غواړي چې دغه ټولنه کمزوري کړي او د پیاوړو مشرانو څخه یې محرومه کړي. که چیرې دا میلان راتېت نه کړل شو، نو په افغانستان کې به د شیعه ټولنې امنیت او د فرقه ییز او د ګروهو ترمنځه امن به نور هم په خطر کې واچول شي.

***د نورو مذهبي لږکیو لپاره شرایط:*** په 1992 کې د طالبانو پر واکمنۍ د حکومت د رنګېدو څخه وړاندې په افغانستان کې شاوخوا 200,000 هندوان او سیکان وګړي میشت ول، دا شمېر یوازې 200 کورنو، یا 3,000 او 7,000 وګړو ته راټیټ شوی دی، د غیردولتي سازمان نیشنل کاونسل اوف هندوز ایند سیکس د وینا ترمخه. د دولت سره د ډېرو زیاتو بحثونو او د تېرو ناکامه هڅو څخه وروستو، هندوانو او سیکانو له په 2016 کې په پارلمان کې نمایندګي ورکړل شوه. ولسمشر غني د دې ټولنې غړي د پیاوړو کولو او ورله د دندو ورکولو هڅې کړې دي.

بیاهم، د هندوانو او عیسویانو پاتې کورنیو څرګند عبادت ځایونو او کلیساو ته تلل پرېښودلي دي او پر ځای عامو ودانیو ته تګ کوي او د خپل امنیت یقیني ساتلو لپاره اکثر خپلې مذهبي ورځې په پټه لمانځي. برسېره پر دې، په هېواد کې د مړي سېزلو ځایو په نیشتوالي کې، دغه ټولنې نه شي کولی چې د خپلو مړو د سپارلو مذهبي رسومات ترسره کړي. کله چې په استوګنیزو سیمو کې دغه رنګ رسومات ترسره کیږي نو د نږدې اسلامي ټولنې سره شخړې رامنځته شوې دي.

په افغانستان کې د بهایي ټولنې لپاره د ابادی یا د چلند کوم مالومات شتون نه لري. دا ټولنه د افغانستان د سترې محکمې د فتوو او شمېرنې د عمومي ریاست له خوا د 2007 د اعلامیې راهیسې په پرتلیزه بې نومی کې ژوند کوي، کوم چې دا اعلاموي چې بهایي ګروهه لرونکې د مذهب سپکاوی کوونکې ډله ده.

***د ښځو او مذهبي ازادي:*** په افغانستان کې د ښځو د حقونو وضعیت هم هغې ته ورته دی کوم چې په 2016 کې و. د 1990 په لسیزه کې د طالبانو حکومت د اسلام او شرعي قانون د افراطي توضیح پر اساس د ښځو حقونه په بشپړه توګه له منځه یوړل، او په 2017 کې هغه ډلو چې چې د طالبانو له ایډیالوژۍ نه متاثره وو په دوامداره توګه ښځو ته په هغه ساحو کې د حقونو ورکولو نه انکار کاوه کومې ساحو چې د دوی د ولکې لاندې وې. د 2017 په اوږدو کې دولتي او ټولنیزو فعالانو هم هغه مذهبي او ټولنیز دودونه عملي کولو ته دوام ورکړ کومو چې د ښځو پرضد د توپیري چلند پرخوا وو او د دوی د مذهب او ګروهې ازادي یې محدودوله. د واده څخه بهر اړیکې د لرلو تورونو پر اساس د غیرت په نامه قتلونه، له واده څخه وړاندې جنسي اړیکې لرل یا د ګنل کېدونکې سرغړونې بل کوم ډول د شریعت د سخت دریځه توضیحاتو له امله په دوامداره توګه پر افغانې ښځو اغیزونه کړي دي. اکثر د کورنې تېري یا د غیرت پر اساس تېري زیاتې پېښې نه راپور کیږي ځکه چې دغه تېري کوونکې او قربانیان د خاندان غړي وي. برسېره پر دې، په داسې حال کې چې په افغانستان کې د شریعي قانون ځینې توضیحات د کوچنیانو د واده قبلونه کوي، په اپریل 2017 کې حکومت نیشنل ایکشن پلان جوړ کړو چې د کوچنیوالي ودونو مخنیوی وکړي او دغه عمل له منځه ویسي او دا چې د واده لپاره د عمر حد لږ تر لږه 18 کاله ومني.

**د متحده ایالتو تګلاره**

افغانستان په سویلي آسیا کې په دوامداره توګه د متحده ایالتو د تګلارې مرکزي مقام لري. په افغانستان کې د طالبانو او ISIS رنګه ډلو ته ماته ورکول د افغانستان دولت ته د دې موقعې ورکولو یوه لاره ده چې دی په خپله ټوله سیمه قابو ترلاسه کړي او په پاتې سیمه کې نړیوالې ترهګرې ډلې له منځه یوسي. په افغانستان کې دوه عسکري مهمات فعالیت کوي: نارت اټلانټیک ټریټي اورګنایزیشن (NATO) رسالوټ سپورټ مشن او د متحده ایالتو او افغانستان ګډ مشن. د طالبانو سره د امن د

مذاکراتو له لارې د شخړې د هوارولو هڅې ناکامه شوې دي، او احتمال لري چې ISKP او نورې افراطي ډلې په اینده کې نورې هڅې هم شدیدې کړي. په 2017 کې جنرال جان ډبلیو نیکلسن، کوم چې له 2016 راهیسې په افغانستان کې د متحده ایالتو د ځواکونو قوماندان و، توضیح کړې ده چې د ځواکونو هغه ټیټ شمېر چې نړیوالې ټولنې او متحده ایالتو د هغې ژمنه کړې وه د افراطي ډلو سره یو ولاړ وضعیت ته رسېدلي دي کوم وضعیت چې د اضافي ځواکونو له مرستې پرته ماتول باید احتمال ونلري. تر څه حده د دې په ځواب کې، ولسمشر ټرمپ د 3,000 اضافي امریکایي ځواکونو ژمنه وکړه چې په هېواد کې له مخه کار کوونکي 14,000 ځواکونه تقویه کړي. د ناټو ریزلوټ سپورټ مشن هم ژمن شوی دی چې په هېواد کې خپل روزنیزې قوې ته اضافي 3,000 ځواکونه ولېږي.

ولسمشر باراک اوبامه ته ورته نه، ولسمشر ټرمپ په افغانستان کې د متحده ایالتو بوختېدو ته د وخت کوم چوکاټ نه دې ورکړی، خو د ځواکونو ایستلو اساس یې هغه شرطونه ګرځولي دي چې نړیواله ټولنه، متحده ایالتونه، او د افغانستان امنیتي ځواکونه او دولت یې باید بشپړ کړي. د شرطو دقیق نوعیت یې نه دی په ډاګه کړی.

د دې کال په اوږدو کې، د بهرنیو چارو سیکتر ریکس ټیلرسن په اکتوبر کې د باګرام هوایي ډګر ته تلی و، او مرستیا ولسمشر مایک پینس په دیسیمبر کې کابل ته تلی و، د ولسمشر غني سره یې لیده کتنه وکړه او ځواکونو ته یې وېنا وکړه. دواړو د متحده ایالتو پر ژمنه ټینګار وکړ د دې لپاره چې د افغانستان امنیت ټینګولو کې او د افغانستان دولت په پیاوړي کولو کې مرسته وکړي.

په 2017 کې د بهرنیو چارو وزارت د افغان مشرتابه سره د بشري حقونو او مذهبي ازادۍ خوندي کولو کې په دوامداره توګه مرسته وکړه. د لوړو حکومتي چارواکو سره په غونډو کې، د سفارت چارواکو په مذهبي زغم او د هېواد مذهبي اقلیتونو ته د امنیت په وړاندې کولو ټینګار وکړ. د متحده ایالتو سفارت د ګروهې دننه او د نورو ګروهو سره د امن نه ډکې مرکې د تخلیق کولو په لټه کې.